عبدالباري جهاني
۲۰۱۹/۰٦/۲۹

# تاریخ، تاریخي افسانې، استناد

د تاریخي متونو، افسانو او تاریخي کیسو اساسي توپیر په دې کې دی چې تاریخي متون مستند او پر موثقو منابعو او حوالو ولاړ وي. د پېښي او یا پېښو اصلي یا نسبتاً اصلي بڼه وړاندي کوي. هر څومره چې یو مؤرخ د تاریخي پېښو د لیکلو په وخت کې پر مستندو آثارو تکیه وکړي او هر څومره چې د پېښو د لیکلو په وخت کې بېطرفي وساتي په هماغه اندازه یې اثر د اعتبار وړ او د څېړني ژوند یې زیات وي. خو د افسانو، نکلونو او حتی تاریخي داستانونو د لیکلو په وخت کې د لیکوال لاسونه خلاص وي او کله کله حتی له مبالغو څخه کار اخلي او اخیستلای یې سي.

افساني پخپله د یو لړ ریښتونو پېښو او واقعیتونو ضمني انعکاس وی خو ضرور نه ده چې د افسانو په کم او کیف دې پېښي منځته راغلي او یا مورږ اعتبار او استناد په وکړای سو. موږ له افسانو څخه په مختلفو لیکنو کې کار اخیستلای سو مګر د تاریخي پېښو په برخه کې، د سند په حیث، استناد نه سو ورباندي کولای. دا ځکه چې افسانې، په اکثرو مواردو کې، له واقعیت سره سر نه خوري. د مثال په ډول د فردوسي شاهنامه، چې د فارسي ژبې بلکه د نړی یو تلپاته ادبي شهکاردی، په خپل متن کې داسي قهرمانان لري چې وجود یې د انسان له تصور او باوره وتلی وي. جمشید اووه سوه کاله پاچهي کوي، ضحاک تازي زرکاله پاچا دی او چې څه ظلمونه یې په وس رسیږي هغه کوي. له دوو اوږو څخه یې دوه ماران راوزي او هره ورځ د دوو انسانانو په ماغزو پایي. رستم یو پهلوان دی چې په انسانانو کې خو یې د زړه ورتوب او زورورتوب سارى نسته بلکه د اژدها او دېوانو په جنګ ورځي. سره له هغه هم د سیمي د ځینو تاریخي پېښو په باره کې کار ورڅخه اخیستل کېدلای سي؛ مګر د تاریخي متن په حیث استناد نسي ورباندي کېدلای.

د ساسانیانو مشهور پاچا انوشېروان په عدالت مشهور وو مګر، د فردوسي په شهنامه کې، چې د انوشېروان د وخت د پېښو تسلسل یې بیان کړی دی، د هغه په باره کې دونه افساني راغلي او لیکل سوي او دونه مبالغي سوي دي چې د منلو وړ نه دي. که څه هم چې د تاریخ د یوه شاګرد لپاره یې لوستل ګټور او په زړه پوري دي خو ضروري نه ده چې د تاریخي متن په لیکلو کې استناد ورباندي وسي. ویل کیږي چې د مغول جلال الدین اکبر وزیر راجا بیربل ډېر هوښیار سړی وو او پر اکبر باندي له حده زیات ګران وو مګر د هغه د هوښیارۍ په باب د افسانو یو بشپړ کتاب موجود دی چې ډېري یې د منلو وړ نه دي او سړی استناد نه سي ورباندي کولای. عباسي خلیفه هارون الرشید ډېر

غښتلی، پوه او د ښې اداري خاوند پاچا تېر سوی دی مګر د هغه په باره کي د الف لیله ولیله افساني د منلو وړ نه دي او یا لېرترلږه د افسانو په سترګه باید ورته کتل سي.

په تاریخي کتابونو کي هم کله کله داسي کیسې راوړلي سوي وي چي سرې یې باید، د لیکني په وخت کي، کټ مټ را نقل نه کړي بلکه غور پکښې وکړي. د مثال په توګه: په هند کي چي د سلطان بهلول لودي په باب هر څه لیکني سوي دي نو د تاریخ داودي دا افسانه تکراروي چي بهلول یوه ورځ د خپلو دوو ملګرو قطب خان او فیروز خان سره روان وو. په سامانه کي یې یو مجذوب ولیدی او هغه ورته وویل چي په تاسي کي داسي څوک سته چي د ډهلي پاچهي په دوه زره ټنګو واخلي؟ بهلول سمدستي هغه ته شپاړس سوه ټنګې ورکړې او ورته وې ویل چي نوري نه لرم. مجذوب هغه پیسې واخیستلې او ده ته یې د ډهلي د پاچهی مبارکي ورکړه. ملګرو یې ورپوري وخندل چي هسي دي خپلي پیسې په سیند لاهو کړې. بهلول ورته وویل چي که د مجذوب خبره ریشتیا سي نو بیا خو مي ډېره ارزانه سودا کړې ده او که ریشتیا نه سي نو پرېږده د یوه سید درویش زړه مي خو شاله کړ. عبدالله ص ص ۱۸-۱۹

چاچي د سلطان بهلول تاریخ لوستی وي پوهیږي چي هغه د ډهلي سلطنت د توري او هوښیاری په زور ترلاسه کړ او اته دېرش کاله پاچهي یې د توري او عقل په زور وکړه او د ډهلي له تر ټولو بریالیو او محبوبو پاچاهانو څخه وو. دا دونه کارونه د بخت او د ملنګ د دعا په زور نه بلکه د هوښیاری او توري په زور کیږي. دغه راز که چیري درویش پیسو ته ضرورت نه درلود نو باید چي د بهلول پیسې یې بیرته ورکړې وای او که یې ضرورت درلود نو چي بهلول ته یې د ډهلي پاچهي بخښله ځانته به یې خزانې پیدا کړې وای.

د احمدشاه بابا د پاچا کېدلو په باب یوه مشهوره افسانه ده چي د مُجمل التواریخ څخه یې سرچینه اخیستې ده او وایي کله چي نادرشاه افشارد خراسان په نیت روان سو نو د خبوشان په یو منزلي کي یې خېمې ووهلې  او په دغه وخت کي یو درویش، چي وړینه خولۍ یې پرسر وه، احمدخان ته راغی او ورته وې ویل چي ستا په تندي کي د پاچهی نخښې وینم. ماته یو توپ کرباس راوړه چي تاته د پاچهی خېمې جوړي کړم. احمد خان هم یو توپ کرباس ورته راووړ او درویش له هغه څخه د وړو د لوبو په څېر خېمې ورته جوړي کړې او هر ځای چي به د احمدخان خېمه ولاړه وه درویش به خپلې خېمې ورته ودرولې. ګلستانه ص ص ۵۹-۶۰

د تعجب خبره داده چي دا افسانه د ډاکټرګنداسینګه په څېر مشهورو او هوښیارو تاریخ پوهانو کټ مټ را نقل کړې او ګنداسینګه لا د مُجمل التواریخ  له درویش سره د صابرشاه نوم هم ورزیات کړی دی. ګنداسینګه ص ۲۶

ما همدغه کیسه د خپلو معاصرو مشهورو پوهانو په کتابونو کي لیدلې ده. سره له دې چي پوهانو باید دې کیسې ته د یوه خرافي روایت په سترګه کتلي وای؛ دونه فکر باید هر یوه کړی وای چي د نادرشاه د دونه قوي استخباراتو او د هغه د دونه بدبینی او ویري سره، چي د ناروغی او لېونتوب حالت ته رسېدلې وه؛ او خپل زوی رضاقلي یې، چي د ده د ډیرو لویو فتوحاتو لوی قوماندان وو، د همغې خودخواهی او ویري قرباني کړ، دا څرنګه امکان لري چي د هغه په کمپ کي دي یو درویش د احمدخان د پاچاکېدلو لپاره دونه جدي تبلیغ وکړي، خېمې دي ورته جوړي کړې  او نادرشاه دي درویش او احمدخان ته هیڅ ونه وایي.

ځيني وختونه ځيني ليکوالان د تاريخي مطالبو د ليکلو لپاره د تاريخي داستان طريقه غوره کوي. دوی غواړي تاريخي مطالب، چي کله کله يې لوستل يو څه درانه پرېوزي، د داستان په ژبه، چي لوستل يې آسان دي، افاده کړي. په دې ډول داستانونو کي قهرمانان زياتره ريښتوني کسان وي. ډيري زياتي پيښي، لکه څرنګه چي په داستان کي اشاره ورته سوې وي، منځته راغلي وي؛ مګر څرنګه چي ليکوال د داستان لاره غوره کړې وي نو ځان يو ډول آزاد احساسوي. ځيني پيښي په زيات تفصيل بيانوي، له ځينو پيښو څخه په خپله خوښه په چټکي تيريږي، په ځينو پيښو کي مبالغې کوي او د خپل داستان د پلاټ لپاره ځيني نومونه ايجادوي او د عمل صحنې ته يې واردوي.

څه موده مخکي، د نصيراحمد احمدي په نوم يوه ځوان د بغدادي پير په نوم يو ناول وليکی او په ځينو ويب سايټونو کي يې خپور کړ. د داستان مهم او اصلي کرکتر، چي بغدادي پيردی، د اعليحضرت امان الله خان پر ضد، د حبيب الله کلکاني په ګټه، د پکتيا په سرحدي سيمه کي را څرګنديږي. دا سړی ډېوېډ جيمز نوميږي چي ګويا په اصل کي د انګرېزانو جاسوس دی او د افغانستان په حق کي د انګرېزانو د شومو پاليسيو د عملي کولو او د امان الله خان د نسکورولو لپاره، د پير په جامه کي، فعاليت کوي. د انګرېزانو په هدايت افغانان غولوي او د اعليحضرت امان الله خان په مقابل کي يې راپاروي.

داستان به ښه ليکل سوی وي؛ خو موږ له هغه څخه هيڅ وخت د تاريخي مأخذ په حيث استفاده نه سو کولای، بلکه په هغه کي د هغې زماني د پيښو انعکاس ګورو. د افغانستان په تاريخ کي، په تېره بيا د پکتيا په سيمه کي هيڅ وخت د بغدادي پير په نوم چا فعاليت نه دی کړی. موږ البته، د دوهم نړيوال جنګ په کلونو کي، د لنډي مودې لپاره، د وزيريستان په علاقه کي، د شامي پير يا سعد ګيلاني په نوم يو سړی پيژنو چي د جرمني په ګټه يې فعاليت کاوه. او کله چي انګرېزانو پنځه ويشت زره پونډه ورکړل نو سمدستي يې ږيره وخريله، پتلون يې واغوست او په الوتکه کي يې له هند څخه پرواز وکړ. تيټلر ص ۲۶۷

محمد اعظم سيستاني، چي زياتره وختونه تاريخي تحقيقاتي مضامين او کتابونه ليکي، له دې داستان څخه، د انګرېزانو د محکومولو لپاره، د يوه تاريخي مأخذ په حيث استفاده کړې او ټول ناوال يې، يا ډېره برخه يې په دري ژبه ترجمه کړې او بدي خو لا په دې کي ده چي هغه يې د يوه انګرېز جاسوس د اعترافاتو او ياداشتونو ترجمه بللې ده. په داسي حال کي چي موږ په دغه سيمه کي د ډېوېډ جونز په نوم هيڅ انګرېز جاسوس نه پيژنو. که دا جاسوس موجود وو نو خپل خاطرات به يې، چي د بغدادي پير د داستان اصلي برخه ده، په انګرېزي ليکلي او چاپ کړي وي. خو دا کتاب هيچا نه دی ليدلی او که کوم انګرېز په دغه صراحت خپل خاطرات چاپ ته سپارلي وای نو په عالم کي به يې غوغا جوړه کړې وای. خو بغدادي پير او ډيوېډ جونز يوازي د داستان د ليکوال نصيراحمد احمدي په مغز کي دي؛ او خارجي وجود نه لري. که موږ چيري په افغانستان کي د انګرېزانو د جاسوسي شبکو د فعاليتونو په باب ليکنه کوو نو بهتره ده چي د داستان د خيالي قهرمانانو پر ځای آرشيفونوته مراجعه وکړو او وګورو چي ډېوېډ جونز او بغدادي پير کله په پکتيا کي موجود ول او کنه؟

په دې کي شک نسته چي انګرېزان به د اعليحضرت امان الله خان په سقوط تر اندازې زيات خوشاله وه ځکه چي هغه له لومړۍ ځوانی څخه تر مرګه پوري د انګرېزانو سره دښمني وپالل او هغوی ته په زيان رسولو کي يوه شېبه بېکاره پاته نه سو. د اعليحضرت امان الله خان پر ضد ډيرو پيرانو، حضرتانو او مُلايانو ځانونه ستړي کړل او له

ډیرو سره به د انګرېزانو ملاتړ ملګری وو؛ مګر د دې معنی دا نه ده چې موږ په دې برخه کې هره افسانه ومنو او په هر تاریخي داستان استناد وکړو.

دغه راز، لکه مخکې چې مو مثالونه راوړل، په تاریخي کتابونو، په تېره بیا کلاسیکو متونو، کې ډیرې داسې کیسې راوړلې کیږی چې موږ یوازې د کیسې یا انیکډوټ Anecdote په سترګه ورته ګورو او په تاریخي کتابونو کې یې هم زیاتره د حکایت تر عنوان لاندې را وستلې وې خو ضرور نه ده چې موږ یې ومنو او یا یې کټ مټ را نقل کړو.

## استناد:

د تاریخ او تاریخي مضامینو د لیکلو په وخت کې، په موثقو او باوري منابعو استناد یوه له تر ټولو مهمو مسألو څخه ده. زموږ ځینو مورخینو د ځینو پیښو د تشریح کولو په ترڅ کې کله کله له یو څه بې احتیاطی څخه کار اخیستی وې؛ چې په عمومي ډول، ښایي د پیښی یا موضوع په اړه چنداني تاثیر ونه لري خو ښایي د تاریخ د شاګردانو د ګمراه کولو سبب سي. د مثال په ډول: مشهور مورخ میرغلام محمدغبار د سید جمال الدین افغاني د ژوند په باب لیکي چې « سیدجمال الدین افغاني په ۱۸۵۷ کال کې د امیر دوست محمدخان له دربار سره یو ځای سو او د امیر له مرګ څخه وروسته د امیرشیرعلي خان په دربار کې پاته سو. البته د امیردوست محمدخان دربار د دغه انقلابي مېړه څخه د ګټي اخیستلو توان نه درلود خو امیر شیرعلي خان دا توان درلود چې له دغه راز یوه سړي څخه د هیواد په ګټه استفاده وکړي. سید په نولس کلنې کې دربار ته راغی او یوولس کاله پاته سو. په داسې حال کې چې مخکې له ۱۸۵۵ څخه تر ۱۸۵۷ پوري تقریبا درې کاله یې په هند، عراق، شام او حجاز کې سفرونه کړي او له اروپایی علومو او نوي فسلفې له زده کړو څخه یې ګټه اخیستې وه...» غبار ص ۵۹۲

د سیدجمال الدین افغاني په باره کې د مرحوم غبار دا لیکنه ښایي پر اصل مضمون او موضوع باندې چنداني اغېزه ونه لري . سید جمال الدین افغاني، په نونسمه پېړۍ کې، د اسلامي نړۍ یو نابغه وو او دا به څومره ښه وای چې امیردوست محمدخان او د افغانستان نورو مشرانو او پاچاهانو د هغه له وجود څخه ګټه اخیستې وای. خو که د تاریخ یو شاګرد، یو وخت، په دغه موضوع کې، د سید خپلو لیکنو او یاداشتونو ته مراجعه وکړي او وګوري چې حقایق سر نه سره خوري نو حتما یې ذهن مغشوش کیږي. مثلا سید په هغه لیک کې چې په ۱۸۶۶ کال کې، چې امیرشیرعلي خان، د خپلو ورونو سره د جنګونو په سلسله کې، د کابل له تخته پرزېدلی او د هغه ورور امیر محمدافضل خان پاچا دی، په هرات کې د جمال الدین حسیني عبدالله بن عبدالله تر نامه لاندې یو لیک پرې ایښی دی چې د مرحوم غبار له متن سره سر نه خوري. سید لیکلي دي « اوس چې د عالم له قیل او قال څخه را ګوښه سوی یم. غرض دا چې پنځه کاله د عالم په اطرافو کې وګرځېدم، او راز راز زحمتونه او تر حد زیاتې خوارۍ مې وګاللې. د هر مذهب له مشرانو او د هر ملت له فقراوو او د هرې فرقې له علماوو او د هر مملکت له مشرانو او د هرولایت له پوهانو سره مې مجلسونه وکړل ... » سید له ټولو څخه ناخوښې ښکاره کوي ځکه چې هیچا یې پر خبره غوږ نه دی نیولی خو په دې خوشاله دی چې د نېکانو او د خدای د دوستانو په برکت یې له تیاره جهان څخه روحاني نړۍ ته لاره پیدا کړې ده. افغاني ص ص ۱-۲

له دې لیک څخه، چې په ۱۸۶۶ کال کې لیکل سوی دی، په څرګنده معلومیږي چې سید باید خپل علمي سفرونه په ۱۸۶۰ کې، یعني د امیردوست محمدخان له وفات څخه درې کاله مخکې پیل کړي او د هغه له وفات څخه، چې ۱۸۶۳ کال کیږي، درې کاله وروسته هرات ته راغلی وي. مرحوم غبار موږ ته وایی چې سید له ۱۸۵۵ څخه تر ۱۸۵۷ پورې په نړۍ کې خپل علمي سفرونه وکړل؛ خوسید موږ ته وایی چې دا سفرونه یې درې کاله نه بلکه شپږکاله وه او د ۱۸۶۰ څخه یې پیل کړي دي. مرحوم غبار موږ ته وايي چې سید په نونس کلنی کې، چې که د غبار له متن سره سم،په ۱۸۳۸ کې زیږېدلی وي، نو دا وخت به ۱۸۵۷ کال وو، له دربار سره یو ځای سو او یوولس کاله پاته سو. یعني تر ۱۸۶۸ کال پورې باید په دربار کې پاته سوی وي. په داسې حال کې چې سید پخپله وایي چې له ۱۸۶۰ څخه تر ۱۸۶۶ پورې په بهر کې وو. چې په دې حساب د سید خپله لیکنه، چې تر بل هر سند معتبره ده، د مرحوم غبار له تاریخ سره سر نه خوري.

مرحوم غبار لیکي چې د امیرشیرعلي خان په دربار کې، د محمدرفیق خان لودي په څېر مغرضینو د سید جمال الدین افغاني په مقابل کې د امیرشیرعلي خان نیت ته تغییر ورکړ او هغه ته یې وویل چې د سید کور بنایي د امیر د مخالف ورور سردارمحمداعظم خان او نورو کسانو د ټولېدلو مرکز سي نو بهتره به وي چې له هغه څخه ځان بېغمه کړي نو هغه وو چې امیرشیرعلي خان هم سید له درباره او له افغانستان څخه وایست. په داسې حال کې چې سید د مرکزي حکومت ډېر ټینګ طرفدار وو او د امیردوست محمدخان له وفات څخه وروسته یې سردار محمداعظم خان وهڅاوه چې خپل کشر ورور امیرشیرعلي خان ته بیعت وکړي. غبار ص ۵۹۳

په داسې حال کې چې سید په خپل لیک کې، چې په هرات کې یې لیکلی دی، لیکلي دي چې هغه د امیردوست محمدخان له وفات څخه درې کاله مخکې بهرنیو ملکونو ته تللی او د هغه له وفات څخه درې کاله وروسته یعني ۱۸۶۶ کې هرات ته ستون سوی دی. ګواکې نه د امیر دوست محمدخان د وفات په وخت کې په هرات کې حاضر وو او نه یې محمداعظم خان ته د امیر شیرعلي خان د امارت منلو او هغه ته د بیعت کولو توصیه کړې ده.

موږ ګورو چې د مرحوم غبار او نورو مورخینو لیکني د سید پر شخصیت او په سیمه کې د هغه پر رول او اغېز باندي کوم خاص تاثیر نه لري خو د افغانستان د هغه وخت په پېښو کې د سید د حضور او رول په باب داسې څرګند ګمراه کونکي معلومات راکوي چې پخپله د سید له لیکنو سره نه لګیږي.

دغه راز د میوند د جنګ د مهمي تاریخي پېښي په باره کې هم مرحوم غبار د میرزا یعقوب علي خوافي په حواله وایي چې په هغه جنګ کې د انګرېزانو دوولس زره عسکر تلف سول او یوازې پنځه ویشت تنه یې، هغه هم په افغاني جامو کې د مسلمانانو په ډول، کندهار ته ژوندي ورسېدل. غبار ص ۶۳۸

زموږ ځینو نورو مورخینو هم، د مرحوم غبار په پیروي، د میوند د جنګ په باب خپلو لیکنو کې، د هغه دغه ادعا تکرار کړې ده. مرحوم غبار وایی چې میرزا یعقوب علي خوافي د انګرېزیانو د تلفاتو په باب د سردارکهندل خان د لمسي سرداراحمدعلي خان څخه، چې د میوند په جنګ کې یې برخه درلوده، دغه معلومات تر لاسه کړي دي.

موږ ګورو چې لومړی خو دا حواله ډېره کمزورې ده؛ او مورخ باید له باوري منابعو څخه کار واخلي. نه دا چې د داسې یوه سړي پر ادعا باندي حواله ورکړي چې په هغه جنګ کې یې صرف برخه اخیستي وي. میرزا یعقوب علي

خافي د یوه سړي په قول چي په جنګ کي یي برخه درلوده لیکنه کوي. چي دا منبع یو اړخیزه او ډېره کمزوري ده او له بلي خوا د انګرېزانو منابع، چي د هغه مهم جنګ په باب دقیق ارقام پکښي خپاره سوي دي د انګرېز پوځ د شمېر، ماتي او تلفاتو په باره کي بل ډول اطلاع راکوي. انګرېزي منابع وایي چي د میوند په جنګ کي د انګرېزیانو د پوځیانو ټول شمېر ۲۴۷۶ تنه وو. د جنګ او د انګرېزانو د ماتي په نتیجه کي ۹۷۱ تنه ووژل سول او باقي پاته کسان یي کندهار ته ورسېدل. لازمه ده چي د دې رپوټ دغه برخه یو څه په بشپړه توګه راوړو. په رپوټ کي راغلي دي چي ۲۱ تنه برتانوي افسران وژل سوي او اته تنه ټپیان سوي دي. پوځیان ۲۹۶ تنه وژل سوي او ۴۲ تنه ټپیان سوي دي. ۱۱ تنه هندي افسران وژل سوي او ۹ تنه ټپیان سوي دي. ۶۴۳ تنه هندي پوځیان وژل سوي او ۱۰۹ تنه ټپیان سوي دي. چي مجموعا ۹۷۱ وژل سوي او ۱۶۸ تنه ټپیان سوي دي. په دې جنګ کي له پوځ سره ملګري ملکي کسان، لکه خدمه او غریبکاران ۳۳۱ تنه وژل سوي او ۷ تنه ټپیان سوي دي. ۲۰۱ آسونه وژل سوي او ۶۸ ټپیان سوي دي. د سیکنډ افغان وار ص ۵۲۶

د افغان او انګرېز د دوهم جنګ په باب د رپوټونو دغه کتاب، چي ټول ۷۸۴ مخه دی، په ۱۸۸۱ کال کي د محرم کتاب په شکل ترتیب سوی او په ۱۹۷۵ کال کي، د میوند له جنګ څخه څه کم سل کاله وروسته چاپ سوی دی. موږ بیا هم ګورو چي د تلفاتو د شمېر اندازه د میوند د جنګ پر نتیجه باندي، چي د انګرېزي پوځ بشپړه ماته ده، کوم تاثیر نه لري؛ مګر د څه کم زرو تنو وژل سویو او دوولس زرو تنو وژل سویو ترمنځ توپیر ډېر زیات دی.

میرزا یعقوب علي خافي د افغانانو او انګرېزانو د لومړي جنګ او د انګرېز پوځ د ماتي په باب لیکنه کي هم د انګرېزانو د تلفاتو په باب دونه مبالغه کوي چي هیڅ بل مورخ نه ده کړې. دی وایي چي وزیرمحمداکبرخان لوی لاټ له منځه یووړ او غازیانو د انګرېزانو پر چوڼی باندي یرغل ورووړ. په یوه هفته کي یي د انګرېزانو له پوځ څخه یولک او شل زره تنه قتل کړل او یوازي یوولس تنه یي نیم ژواندي تر پېښوره ورسېدل. خافي جلد اول ص ۱۴

په داسي حال کي چي د افغانستان اکثرو مورخینو د انګرېزي پوځیانو د تلفاتو شمېر د پنځه ویشتو زرو تنو په شاوخوا کي ښودلی او پخپله انګرېزي منابع وایي چي د شاه شجاع سره ۶ زره عسکر ملګري ول او د انګرېزانو د پوځ شمېر ۹۵۰۰ تنه وو، چي په دې حساب ټول څه کم شپاړس زره تنه کیږي. بیا هم د وژل سویو انګرېزانو شمېر د جنګ په نتیجه کي، چي د انګرېزي پوځ لپاره، تر دغه وخته پوري، د خپل تاریخ تر ټولو سخته ناکامي وه، تغییر نه راولي؛ مګر ۱۲۰ زره او پنځه ویشت زره ډېر زیات توپیر لري.

له بلي خوا ټولو هغو کسانو ته چي د افغانستان د تاریخ او د انګرېزانو او افغانانو د اړیکو په باب لږ او ډېر سواد لري معلومه ده چي وزیرمحمداکبرخان د ۱۸۴۱ کال د ډسمبر په میاشت کي، په کابل کي د انګرېز پوځ سیاسي آمر ویلیم مکناټن وواژه او له دې پیښي څخه څه کم پنځه میاشتي وروسته د نواب محمدزمان خان زوی شجاع الدوله خان، د سیاه سنګ په سیمه کي شاه شجاع وواژه. خو خافي خان د ټولو تاریخي منابعو او کتابونو په خلاف لیکي چي د شاه شجاع له قتلېدلو څخه وروسته د کابل خلکو او غازیانوسردارمحمداکبرخان ته، چي دا وخت په بامیان کي وو، بلنه ورکړه چي کابل ته راسي او د ملي قیام رهبري پر غاړه واخلي. محمداکبر خان هم کابل ته راغی او د غازیانو مشرتوب یي واخیست. څه وخت وروسته یي مکناټن قتل کړ. خافي جلد اول ص ص ۱۳-۱۴

بیا هم دا خبري د جنګ پر نتیجه او پر افغانستان باندي د انګرېز پوځ د ظالمانه تېري پر نتیجه باندي کوم خاص تاثیر نه لري مګر که د افغانستان د تاریخ یو شاګرد د خپل تاریخ په باره کي بل کتاب لوستی او په هغه کي یي پیښي په بل ډول لوستي وي نو د خافي کتاب یي ذهن مغشوشوي. میرزا یعقوب علي خافي د امیر دوست محمدخان د پاچهي کلونه اووه دېرش ښيي؛ په داسي حال کي چي د هغه د دواړو ځلو پاچهيو د کلونو شمېر دوه دېرش کاله دی. د امیر عبدالرحمن خان د پاچهی کلونه څلېرویشت ښیی، چي هغه شل کاله پاچهي کړې ده.

د داسي یوه بېخبره مورخ، چي د تاریخ د ډېرو لویو او څرګندو پیښو او ارقامو په برخه کي غلطي کوي، په متن باندي استناد پخپله د لیکلي متن اعتبار ته صدمه رسوي. په دې حساب باید چي د استناد لپاره د متونو په انتخاب کي له احتیاط څخه کار واخیستل سي.

## مأخذونه


۱: خافي، میرزایعقوب علي. پادشاهان متاخرافغانستان. مطبعه عمومي کابل ۱۳۳۴

۲: غبار، میرغلام محمد. افغانستان درمسیرتاریخ. چاپ اول دولتي مطبعه کابل ۱۹۶۷

۳:افغانی، سیدجمال الدین. گزیده آثار. موسسه انتشارات بیهقي ۱۳۵۵

۴: عبدالله. داودي تاریخ. ژباړن محقق ډاکټر عبداللطیف یاد طالبي. دانش خپرندویه ټولنه ۲۰۰۷

۵: گلستانه، محمدامین. مُجمل التواریخ. ناشرکتابخانه ابن سینا تهران ۱۳۴۴

٦: Ganda Singh. Ahmed Shah Durrani. ١٩٨١ Lahore
٧: Tytler, W. K. Fraser. Afghanistan. ١٩٦٧ London Oxford University Press.
٨: The Second Afghan War. Army Education Press. The collection of war documents, under the direction of the late Major- General Sir Charles MacGregor. ١٩٧٥